ملوک ازاد
۲۰۱۰/۱۲/۱۷

# د ډيورنډ کرښې رښتونی انځور

د خوا شينی ځای دی چې د ډيورنډ کرښې په اړه ډېرې لړ. او د ګوتو په شمار ليکنې شويدي. ډېری خلک ان تر دې ګڼ شمېر افغانان هم د دې کرښې په اړه ځنګه چې ښايي هغسې پوهاوی نلري. رسنی هم چنداني غوږ. نه پرې ګروي. هېواد پاله ځواکونه هم د بهرنيو زورواکو او کورنيو ټوپکوالو د ګوتڅنډنو او ورپېښنو ستونځو له امله په ښه دريځ کې نه دي. د لړکيو بو لړ. شمېر، په لوموکې نښتي لوستي هم د ګاونډيو ښکاريانو په مټ، په توره ليکه مينان دي. دا او داسې نور لاملونه دي چې د څو لسېزو راهيسې زموږ. تاريخي هېواد او سيمه د دې تورې کرښې په توره تبه اخته ده. خو که خبره هرڅومره ګزو ګام کړو. پايلې دا په ګوته کوي چې: بيا هم د دغه دروند پيټی کسان مالوم دي. او هغه: رښتيني هېواد پاله افغانان دي چې د هېواد د ځمکنی بشپړتيا او سلامتيا پازوالي، تاريخ ورپغاړه کړېده. له دې امله پکار ده چې د دغې سترې او وياړلې دندې د تر سره کولو لپاره د ډيورنډ د تورې کرښې تر ړنګېدو پورې، په پرله پسې توګه نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وشي. او ورسره لاندې ټکي په پام کې ونېول شي:

لومړی ـ تر دې مهاله په ټوله کې د ډيورنډ کرښې په اړه دوه ډوله دريځونه را څرګند شوي:

الپ ـ دولتي دريځ: له بده مرغه د ډيورند کرښې له نښه کولو راهيسې، په هېواد کې د ټاکنو له لارې يو رښتينی ولسواکی دولت او واکمني راغلې نه ده، او که راغلې خو په بېړه له مينځه وړل شوېده. له دې امله د ډيورنډ کرښې په اړه دريځ د پالېسيو، جوړجاړيو او ځانساتو سياستونو په اړوپېچ کې څپڅپانده او تت ښکاري. او يا خو د خپل برخليک د ټاکلو دحق! دپلوماسي مخته کوي، يا يې شاته غورځوي او کله يې هم په بېړه مخ ته اچوي، او په دېتوګه خپلې شپې سبا کوي. او کړنچارې يې په دې اړه يا رشوتونه او يا هم مېلمستياوې دي.

ب ـ ولسي يا خلکي ليد: خلکي ليد په دې متلوکې رالنډيږي: «اوبه په ډانګ نه بېلېږي». «بو کور او دوه نغريه؟». که نن وي که سبا دا وتن د زرغون شا». «تر مارګلی به در سره شم *په هندوستان کې دې په خدای سپارم مينه». او «ماهي چې هر وخت له اوبو راوباسې، تازه وی».

دوهم ـ په افغانستان ، سيمې او نړۍ کې د رښتينې سولې، رښتيني ټيکاو او پرمختګ لپاره، د ډيورنډ د تورې او کرغېړنې کرښې له منځ وړل ، پوازينی سمه ، پخه او رښتينې لاره ده.

دريم ـ يو شمېر کسان داسې ډنډورې غږوي چې: د کرښې لپاره دغه پاړکی سم نه دی او داسې نورې ډېرې انې بانې جوړوي. او لور په لوټه تېره کوي. خو رښتيا خبره دا ده چې: د دې کرښې د رامنځ ته کېدو نه بيا تر نن هره ورځ، هره شپه ، هر ساعت او هره شيبه يې د لرې کولو او ړنګولو ښه وخت وو او دی. دا ځکه چې هر وخت ځانته ځانګړې ارزښت او ځانګړتياوې لري او بايد پخپل وخت ورسره غبرګون وښودل شي او ګټه ترې پورته شي. دبېلګې په توګه: که د بو چا تنه زخمي اويا ټوټه ترې بېله شي، نو د درملنې وخت به يې کوم وي؟ د داسې ناروغانو خو د نړۍ په کچه ډېرې بېلګې شته دي: ويتنام دوه ټوټې شو. تر ډېرو هلوځلو او بلهاريو ببرته سره يو شو. الما ن دوه ټوټې شو، سره د دې چې په دواړو خواو کې بهرني پوځونه، پراته وو، خو المانانو په پرله پسې توګه هلې ځلې وکړې او ان چې د برلين د دېوال پر سر وينې توی شوې، خو په پاي کې سره يو شو. په کوريا کې هم له شپېتو کالو راهېسې پردي پوځونه پراته دي خو د بوالي لپاره راکټونه هم وريږي او هم څو تنه د خپلو بيرغونو سره واټونو ته راوځي. ارېتريا کې هلې ځلې رواني دی. په قبرس کې هلې ځلې کيږي. په کشمير کې د بووالي لپاره وينې توييږي. په پښتونخواکې له اوږدو لسيزو راهيسې، هر اړخيزه هلې ځلې روانې دي. اوپه...

څلورم ـ ځينې په دې اخته دي چې دا لاسوند کره نه دي. لاسليک دی او که نه دی؟ نخشه شته يا نشته؟ دې باچا او دې امير منلې او هغه بل نه ده منلې. او داسې نورې ډېرې خبرې او څېړنې روانې دي. خو بوه پخه خبره د لمر په شان روښانه ده. او هغه دا چې: دلته د بوه پلار ځامن يې په زور سره بېل کړي. بونغرى يې سره ببل کړي. بوه پوله او بو پټې يې سره وېشلی. ان تر دې چې د بوه باغ ونې او څاروي سره جلاکړي. بو جومات يې ببل کړی. بوه وينه يې بېله کړې. په بوه کس يې دوه نومونه ايښي، بوه ژبه يې دوه ټرانګې کړې. بو نوم يې دوه برخې کړی. ورشئ ! د ډيورنډ پرکرښه مېشتې کورنی وګورئ. استازې واستوئ. انځورونه او غږونه يې واورئ . نړېوال پرې خبرکړئ . اوس مهال په نړۍ کې ډېر هېوادونه، جوړښتونه او ځواکونه شته چې ملا تړې شي. خو چې موږ وخوځېږو. زه باور لرم چې په دغه ناروا بېلتانه کې به د غمازانو خبرو، کترو او چلوټو ته ډېر ځای نه وي.

پنځم ـ د بهرنيو ځواکونو شتون او نه شتون کوم بېخبنايي اغېز ځکه نلري چې افغانستان بو موخه اېز ټاټوبی دی. دلته به نور هم راشي او لاړ شي. زه خو دا وايم چې ان په شتون کې غوره ده چې دا ناولې توره کرښه يې په سترګوکې ورووهل شي. دا ځکه چې همدوی دا کرښه کښلې ده. د هېواد بوه برخه يې جلا کړې او بيايې په نورو وېشلې ده.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

شپېږم ـ د هر مهال او هر چال سره باید هماغسې کمال وشي. که د خبرو وخت وو. خبرې دې وشي. که د لاریون ځای او وخت وي لاریون دې وشي. که د ګرمې مامېلې مهال وي. بیادې د «پېرابېي» پل ونېول شي. مانا داچې: د روا هلوځلو تولې بڼې دې د خپل مهال سره سم په پام کې ونېول شي. وګورئ! شمالي ایرلنډ ته، د بریټانویانو په وړاندې.
اووم ـ د هېواد په ټولو اداري جوړښتونو او په بهرکې دافغانانو په مېشتځایونوکي باید د دې تورې کرغېړنې کربنې د لرې کولو لپاره ګڼشمېر جرګې او جوړښتونه رامنځ ته شي. له درې کسانو نېولې بیا تر هرڅومره چې شونتیا وي سره جرګه شي. د دې چارو دبڼه سمون په موخه دې یوه بنسټېزه او یوه تګلاره جوړه شي. د هغوی له مخې دې پرله پسې هلې ځلې اوتر پایه ورسره هر اړخیزه نه ستړېکېدونکي تبلیغاتي چارې سرته ورسېږي. او په دې اړوند له ټولو روا او نړیوالو حقوقي او قانوني لارو چارو څخه ګټه پورته شي. دا هلې ځلې باید په کورونو، جوماتونو، دېرو،د زده کړې ځایونو او دوترونوکې تر سره او په اړونده رسنیوکې غبرګون وښودل شي. او رسنۍ ورته ځانګړې شي. هر څوک چې په هرګوند او هره ګروهه اوهره لاره روان وي، هغه یې خپلې منلې چارې دي. خو دکربنې د رنګېدو خبره : له امو تر مارګلې، او د نړۍ په ټولو هېوادونوکې د مېشتو شاوخوا شپېتو میلونو افغانانو یوه ایماني او وجداني سپېڅلې پازوالي ده. موږ په هندوستان کې په میلیونونو پخوامېشتو افغانانوهم غږ کوو چې د مرستې لاس راوغزوي. دا د هر افغان تاریخي ویاړ دی. پکارده چې: هره موریې خپل بچي ته د للو للو په څېر، دا د افغانانو د یووالي او رغاوي سپېڅلی سرود واوروي. دا ځکه چې: دا د هېواد، سیمې او نړۍ لپاره د سولې، امن او پرمختګ یوازېنۍلاره ده.

خاوره یوه ده لروبره
له امو نه تر اټک
له چترال تر بولان
دا ټپلې کربنه توره توره
یوه پلمه ده خوشې خوشې
یوه کېسه ده هسې هسې
دلته وپوښتئ :
مرغی له کربنې پاسه
ځاله یوه ده، هوا یوه ده
شمال یو توپان یې یو دی
په یوه تړه
تورې تورې ګورګورې
شنه مزرې زیړ غوربېژه
د پیغلو په اوربل
تور رانجه
په تورو تورو سترګو
ښکلا یوه ده سینګار یو.
تاسې وپوښتئ شپانه!
شپېلۍ کې وایي:
دلته ژبه ده یوه
اوښکه، موسکا یوه ده
دېره، چلم، سکروټه،
نشه یوه ده خمار یو.
مینه یوه ده، وینه یوه ده
رمه یوه ده، لېوه یو.
که خبرې دوه، کیسه یوه ده
دا د پېښت و د پېښتون وېجه
یو لوی کور دافغان دی.

(ازاد)
یادونه: له ټولو درنو لیکوالو، تاریخپوهانو، سیاستوالو، شاعرانو او د دیورنډ د کربنې د رنګولو له مینه والو څخه په ډېر درناوي سره غوښتنه کېږي چې په دې اړوند خپلې کره اوګټورې لیکنې، دافغانانو د کلتوري پرمختیا ټولنې په پته راولېږئ. تر څو په لنډه موده کې چاپ او خپرې شي. په دې توګه د افغانانو د کلتوري پرمختیا ټولنه خپله همغږي، پیوستون او ملاتړ له ټولو جرګو او مرکو، رسنیو او جوړښتونو څخه کوي چې په دې سپېڅلې لارکې خوځنده دي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په درنښت
پته: Azad_maluk@hotmail.de


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ